بسم الله الرحمن الرحيم

# د غونډې خبرې

هغه ګران بیه میراث چې اهلبیتو(ع) له ځانه وروسته پریخی دی او د هغوي لارویانو هغه له ورک شونې څخه ساتلی دی د مکتب یوه کامله بیلګه ده چې د اسلامي علومو بیلا بیلې څانګې لري. او د علم ډیر تږي یې له دې چینې خړوب کړي دي. او داسې عالمان او پوهان یې اسلامي امت ته ورکړي دي چې د اهلبیتو(ع) د علمونو په رڼا کې په اسلام باندې د بیلا بیلو سوالونو، شبهو فکري بې لاریو ځواب ورکړي، او په تېر شوي پیړیو کې یې د سوالونو د ټولو نه ښه ځوابونه او د مشکلاتو د حل لارې ښودلي دي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې غونډې ـ لپاره د دې چې دا ذمه واري یې اختسې ده ـ د رسالت له حریمه او د حقو اعتقاداتو نه دفاع ته وړاندی شوی ده. هغه حقیقتونه چې د بیلا بیلو فرقو، مذهبونو او د اسلام مخالفوخلکو همیشه د هغې په مخالفت کې کوښښ کړی دی. د اهلبیتو نړیواله غونډه په پاکې لارې کې، ځان د اهلبیت (ع) د ریښتني لارویانو او شاګردانو څخه ګڼې، هغه شاګردان چې همیشه دې تهمتونو لرې کولو ته تیار وو او دا کوښښ کوي چې په هره زمانه کې د زمانی د غوښتو مطابق د دې جنګ په لومړي سر پاتي شي.

هغه تجربې چې په دې بڼه د اهلبیتو(ع) د مکتب د پوهانو په کتابونو کې ذخیره شوې او راټولې شوې دي، د هغې مثال نه ملاویږي. ځکه چې دا تجربې او دلیلونه چې ټول د عقل سره سم او له بې ځایه تعصبه پاک دي، متخصصان او پوهان او عاقلان داسې مخاطب کوي چې د هغوي عقل او پاک فطرت دا دلیلونه ومني او قبول یې کړي.

د اهلبیتو(ع) نړیوالې غونډې دا کوښښ کړی دی چې د دې تجربو نوې ټوک، د دې زمانې د محققانو، لیکوالانو او د هغه کسانو چې د

اهلبيتو(ع) مذهب يې قبول كړی دی، كتابونه چاپ كړي او د حقيقت د چينې تږو ته يې وړاندې كړي.

دې غونډې د شيعه وو د تېر شويو عالمانو ليكل شوې كتابونه او تحقيقات هم چاپ كړي دي چې دا كتابونه به هم د حقيقت د لټوونكو لپاره د يو خوږې چينې په شان وي. او په دې زمانه كې چې عقل په تكامل او پوره كيدو دی، د اهلبيتو(ع) هغې حقيقتونو ته چې د نړيوالو لپاره يې د تحفې غوندې پريخې دي غوږ كيدي.

هيله لرو چې د دې غونډې د كتابونو لوستوونكي به مونږ له خپلو قيمتي وړانديزونو او ښو نيوكو څخه خبر كړي.

همدارنګ ټولو مؤسسو، پوهانو او ژباړه كوونكو ته بلنه وركوو چې د ګران پيغمبر(ص) دين په خپرونې كې له مونږ سره مرسته وكړي.

له خدايه دا سوال كوو چې زمونږ دا وړكې غوندې كوښښ په خپلې درګاه كې قبول كړي او د اخري امام مهدي (عجل الله تعالي فرجه الشريف) د سوري لاندې نور توفيق هم راكړي.

دې ځاي كې مناسبه ګڼو چې د خوږ استاد ښاغلي عبدالرحيم دراني څخه مننه وكړو چې د دې كتاب په ژباړې كې يې له مونږ سره مرسته وكړه او همدارنګ له هغې كسانو چې د دې كتاب په پوره كيدو كې يې له مونږ سره مرسته كړې، په بيله توګه هغه كسان چې د ترجمې په اداره كې كوښښ كوي.

د اهلبيتو(ع) د نړيوالې غونډې

فرهنګي معاونت

# اووم امام حضرت موسی کاظم علیه السلام

حضرت امام موسی کاظم علیه السلام په "ابوا" نومې کلي کښې چې د مکې او مدينې په منځ کښې پروت دی، د هجرت په يو سل اتۀ ويشتم کال د صفرې د مياشتې په اوومه نيټه وزيږيده.

د مور نوم يې بي بي حميده او پلار يې شپږم امام جعفر صادق عليه سلام دی نوم يې موسي، لقب کاظم او کنيت ابو جعفر دی.

# امام او د بني عباسو حکومت

امام موسی کاظم علیه السلام څلور کالن ؤ چې د امویانو د ظالم حکومت ټغر ټول شو. د امویانو مغربي ځپلي سیاست، لوټ مار او زور زیاتي خلق د امویانو په خلاف راوپارول، په دې منځ و مان کښې د وخت سیاسي کار کوونکو د حضرت امام علي علیه سلام له کورنۍ سره د خلقو له مینې او دلچسپۍ څخه ناوړه استفاده وکړه او حقدار ته د حق ورکولو په نامه یې د ابو مسلم خراساني په مرسته د امویانو تخته نسکوره کړه خو د شپږم امام جعفر صادق (علیه السلام) په ځایې یې ابو العباس سفاح د خلافت په ګدۍ او په حقیقت کښې د باچاهۍ په تحت کیښنولو.[1] او په دې ډول د هجرت په **132** کال د پیغمبر د جاشینۍ او خلافت په جامه کښې د باچاهۍ یوه نوې لړۍ پیل شوه چې نۀ یوازې په ظلم دوه ګونۍ او بې دینۍ کښې له امویانو کمه نۀ وه بلکې په ډیرو بدګڼو کښې ترې مخکښې هم وه. فرق یې یوازې دا ؤ چې امویان ډیر پاتې نۀ شول خو دوي په هم دې طریقې سره د هجرت تر شپږ

---

1 . د اموي ضد انقلاب ادعا کوونکو لوئې خیانت وکړو. په دې نه چې د علویانو په ځائې عباسیان راوستل او پرې ئې نۀ ښودلو چې خلافت خپل اصلي مرکز یعني اهلبیتو ته ستون شي. تاریخ یعقوبي ج 3 ص 89 ، بحارالانوار ج 11 ص 142 چاپ کیاني.

سوه شپږ پنځوسم کاله پورې یعني **524**کاله په بغداد کښې سلطنت وکړو. اووم امام خپل عمر د ابوالعباس سفاح، منصور دوانقي، هادي، مهدي او هارون د ساډوبې دباو او زور زیاتي په حکومت کښې تېر کړو دغو ټولو په امام سخت ظلمونه وکړل. ابوالعباس سفاح په یو سل شپږ دیرشم هجري قمري کښې مړ شو او وروور "دوانیقي" په ځایې کښناست هغۀ بغداد ښار جوړ کړو او ابو مسلم یې وواژۀ او چې کله یې خلافت ټینګ شو نو د حضرت امام علي علیه السلام د کورنۍ او بچو په مړینې ظلم، ځورولو او د هغوي د مالونو په نیلامولو کښې یې خلافت هیڅ کوتاهي ونۀ کړه. او ددې کورنۍ ټول مشران په تیره بیا امام جعفر صادق علیه سلام یې شهیدان کړل. دي یو خونړي، ظالم، مکار، بخیل، حاسد ،حریص او بې وفا سړي ؤ. له ابو مسلم سره د هغۀ بې وفایي چې د ډیرې مودې په کړاوونو سره یې دې ګدۍ ته رسولي ؤ، یو متل جوړ شوی دی.

کله یې چې د امام موسی کاظم علیه السلام پلار شهید کړ نو د هغوي عمر شل کاله ؤ او تر دیرش کلنۍ پورې منصور د رعب او ساډوبې له فضا سره مخامخ ؤ. منصور په **158** هجري کال کښې مړ شو او حکومت یې ځوي مهدي ته ورسید.

د مهدي عباسي سیاست هم د دوکې او چل ول سیاست ؤ. د خپل پلار اکثره سیاسي بندیان یې چې د امام موسی کاظم علیه السلام ملګري ؤ خوشي کړل او سرکاري شوي مالونه یې

ورله ستانۀ کړل خو هماغه شان يې د هغو ثارنه کوله او دښمني يې ورسره لرله. د مسلمانانو د بيت المال په خرچ عيش وعشرت، شراب خورې او زنا کښې يې پنځوس ميليونه درهمه خرچ کړل. د مهدي عباسي په زمانه کښې امام ډير مشهور شو او خلق به جوپې جوپې د تقوی، علم او فضيلت د اسمان دغه ځلاوند ستوري ته په پټه ورتلل او د معنوي فيض له دغې چينې به خړوبيدل، د مهدي جاسوسانو هغۀ ته ددې هر څۀ رپوټونه ورسول هغه غصه شو او حکم يې ورکړو چې امام موسی کاظم عليه السلام له مدينې څخه بغداد ته راولئ او بندي يې کړئ

د "زبالې" اوسيدونکي ابو خالد وايي: له دې حُکمه ورسته هغه پوځيان چې مدينې ته په امام پسې تللي وو، په واپسی کښې له امام سره زما کور ته راغلل، امام ماته په پټه غوندې ووېې چې ځينې څيزونه ورله له بازاره واخلم، زۀ ډير غمجن ؤم، امام ته مې وويل: ويريږم چې دا ظالم دې ونۀ وژني. وې فرمايل: زۀ له هغۀ هيڅ ويره نۀ لرم، تۀ په پلانکي ځايې کښې له ما سره پلانکي وخت وګوره.

امام موسی کاظم عليه السلام بغداد ته بوتلل شو او ما د هغې ورځې انتظار کولو، چې راورسيدۀ نو هغه ځايې ته لاړم لا ډيره انتظاره په اور باندې د سپيلنو په شان سوزيدم چې کله بنۀ ناوخته شو او شپه شوه نو امام مې وليد چې په يو خچر باندې راروان دی، کله يې چې زۀ وليدم نو وې فرمايل: د

خالد پلاره شک مهٔ کوه، زهٔ یم، بیا یې نورې خبرې وکړې او دا یې هم وویل چې ما به بیا بغداد ته راولئ او بیا به نهٔ ستنیږم، افسوس چې هماغه راز وشوه چې امام فرمایلي وؤ.[1]

مهدي چې کله امام موسی کاظم علیه السلام بغداد ته راوست او بندي یې کړ نو په خوب کښې یې حضرت امام علي علیه السلام ولید چې دا ایت یې ورته ولوست: فَهَل عَسَیتُم اَنْ تَوَلَّیتُم اَن تُفسِدو في الارضِ و تَقطعُوا اَرحَامَکم.[2] (ایا تاسو چې واکمنان شئ نو په زمکه به فساد کوئ او رحم به نهٔ کوئ)

ربیع وایي: نیمه شپه وه چې مهدي عباسي په ما پسې سړی راواستوهٔ چې کله ورغلم نو دا ایت یې په خلهٔ ؤ"فهل عسیتم...." ما ته یې وویل لاړ شه او امام موسی کاظم علیه السلام له بنده دلته راوله چې کله مې راوست نو مهدي عباسي پاڅید هغه یې په مخ ښکل کړ او خوب یې ورته واوروهٔ" بیا یې حکم وکړو چې هغه مبارک مدینې ته ستون کړئ.

---

1 . بحار ج 48 ص 72

2 . سوره محمد ایت 22

ربیع اووې: له دې ویرې چې څۀ خنډ یا کړچ رامنځته نشي. هماغه شپه مې د تللو تکل وکړو او سبا ته امام په مدینې کښې ؤ...."[1]

امام په مدینې کښي د عباسي دربار له سختې ساړوبی سره سره د خلقو په تعلیم او لار ښودنې مشغول ؤ. تر دې چې په یو سل نهه شپیتم هجري کال مهدي عباسي مړ شو او ځوې هادي یې په ګدی کښیناست. هادي د خپل پلار په اپوټه د ډیموکراسی خیال هم نۀ ساتلو او په ظاهره او په څرګنده به یې د حضرت امام علي علیه السلام اولاد ځورولو او پلار یې چې دوي ته څۀ ورکړي وو هغه یې ترې بیرته واخستل. د هغۀ تر ټولو شرموونکې پیښه د فخ بوګنوونکې غمیزه وه.

## د فخ غمیز

د مدینې د علویانو یو کس حسین بن علي چې د عباسیانو د حکومت له سخت ظلمه پوزې ته راغی نو د امام موسی کاظم علیه السلام په خوښې یې د هادي په خلاف پاڅون وکړ او له قابو دریو سوو تنو سره له مکې څخه مدینې ته روان شو، د هادي سپایانو د فخ په نامه یو ځاې کښې هغه کالابند کړ او هغه او ملګري یې شهیدان کړل، دوي سره یې هم د کربلا د

1. تاریخ بغداد ج 13 ص 30، 31

پیښې په شان کار وکړ، د ټولو شهیدانو سرونه یې پرې کړل، مدینې ته یې راوړل او په یوې غونډې کښې چې د امام علي علیه سلام ځیني اولاده او امام موسی کاظم علیه السلام چې کله د فخ د پاڅون د مشر حسین بن علي سر ولید نو وې فرمایل: انا لله و انا الیه راجعون والله کان مسلماً صالحاً.... (ټول له خدایه یو او هغۀ ته به ستنیږو. په خدایې قسم دا کس چې شهید کړې شو مسلمان او نیک ؤ، ډیري روژې به یې نیولې شپې به یې رونولې، خلق به یې ښو ته رابلل او له بدو منع کول او ددۀ په کورنۍ کښې تر دۀ غوره څوک نۀ ؤ.)

هادي له سیاسي اخلاقو پرته د وګړنیزو او شخصي اخلاقو له نظره هم بې لارې، شراب خور او عیش کوونکې سړی ؤ. "ابن داب" وایې یوه ورځ هادي ته ورغلم، سترګې یې له شرابو سرې وې، له ما یې وغوښتل چې د شرابو په ستاینه کښې قصیده ووایم، د شعر په ژبه مې ورته قصیده وویله، شعرونه یې ولیکل او ماته یې څلویښت زره درهمه راکړل.

هادي هم په **170** هجري کال مړ شو هارون باچا شو. په دې وخت د امام موسی کاظم علیه السلام عمر **42** کاله ؤ، د هارون دور د عباسیانو زور،زیاتي، بدمعاشي، او د لوټ مار د اوج دور ؤ. هارون د بیعت د مراسمو په پایې کښې یو ایراني یحیي برمکي خپل وزیر کړ او هغۀ ته یې د ټولو چارو او په پوستونو باندې د خلقو د لګولو او لرې کولو بیشپړ اختیار ورکړ، او ددې اختیار د ملاتړ لپاره یې هغۀ ته خپله

ګوتمه ورکړه او په خپله د بيت المال په پيسو په شرابو، کبابو، زنا او د زرو او د لهو لعب د سامانونو په اخستلو مشغول شو.

په هغه زمانه کښې چې دوه يا څلور کلنۍ ګډې قيمت يو درهم ؤ، د بيت المال درامد (عايد ) پنځۀ سوه ميليونه دوه لکه او څلويښت زره درهمه ؤ. چې هارون پرې لاس پورې کړ، اشجع نومې شاهر ته يې د يوې مدحې او تعريف په بدله کښې يو ميليونه درهمه ورکړل، شاعر ابوالعتاهيه او موسيقار ابراهيم موصلي ته يې د څو شعرونو او ساز په بدله کښې هر يو ته سل زره درهمه او سل سل جوړې جامې ورکړې.

دهارون په ماڼۍ کښې چې ډيرې سندرغاړې او موسيقارې ښځې وې چې د هغه وخت ډول ډول سندرې او موسيقۍ به يې غږولې.هارون له جوهراتو او زرو سره ډيره مينه لرله. يو ځل يې يوه ګوتمه په يو لک دينارو واخسته. هره ورځ به يې په پخلن ځايې کښې لس زره درهمه خرچ کيدې او کله کله به د دۀ لپاره ديرش ډوله خوراک تياريدۀ. هارون به جواري کوله او شراب به يې هم ډير څښل حتی کله کله به يې د مجلس له ټولو ګډونکو سره په ګډه شراب څښل، البته د خلقو د غولولو لپاره به يې کله کله اسلامي کارونه هم کول، حج به يې کولو او واعظانو ته به يې ويل چې ورته وعظ او نصيحت وکړي.

# د امام موسی کاظم علیه السلام دریغ او موقف

هارون د عباسیانو د حکومت په وړاندې د حضرت امام علي علیه السلام د کورنۍ په مخالفت او سختۍ ډیر خفه ؤ او له دې امله به یې په هرې ممکنې طریقې هغوي ځپل. خپلو درباري شاعرانو ته به بې ډیرې پیسې ورکولې چې د حضرت امام علي علیه السلام په ال(ع) پیسې بد رد ووائي، منصور نمري چې د حضرت امام علي علیه السلام د کورنۍ په هجو کښې یې یوه قصیده ویلې وه، خزانې ته بوتلو چې څومره ځۀ یې خوښ وي ورځنې واخلي، حتی په دې هم سخت غصه ؤ چې خلق ولې د امام حسین علیه سلام د قبر زیارت کوي او حکم یې ورکړ چې دا زیارت او ورسره خواوشا کورونه ړنګ کړې شي او د بیرې هغه ونه چې د هغۀ مبارک د مزار په خواه کښې ټوکیدلې وه ووهي.[1] (د اسلام پیغمبر په خپل ژوند کښې درې ځله فرمایلي وو د خدایې لعنت دې وي په هغه چا چې د بیرې ونه پریکوي.[2])

په دې کښې شک نشته چې حضرت امام موسی کاظم علیه السلام له داسې ظالم حکومت سره ژوند نشو تیرولی، ځکه

---

1 . امالي شیح طوسي ص 206 چاپ سنګي.

2 . امالي شیخ طوسي ص 206

خو د فخ په پاڅون راضي ؤ او پخپله به يې هم د خپلو ملګرو په ملاتړ سره تر ممکنه حده مقابله کوله.

امام يوه ورځ خپل يو ملګري صفوان بن مهران ته وفرمايل، ته له هر نظره ښه يې خو يوازې دا چې اوښان دې هارون له په کرايه ورکوي، عرض يې وکړ: زه خو يې د حج د سفر لپاره په کرايې ورکوم او پخپله هم په اوښانو پسې نه ځم. امام وفرمايل: ايا ته په زړه کښې نه غواړې چې خدايې هارون ژوندی او سلامت له حجه راستون کړي چې ستا اوښان ضايع نه شي او تا ته کرايه هم درکړي. وې ويل: ولې نه. امام وفرمايل: څوک چې د ظالمانو د پاتې کيدواوعمرغوښتونکې وي له هغو شمېرل کيږي.

که کله به يې ځينو کسانو ته اجازت ورکولو چې د هارون په حکومت او اداره کښې پاتې شي نو يوازې له دې امله وو چې له سياسي نظره يې صلاح په دې کښې ګڼله او د هارون په حکومت کښې به يې داسې کسان ټاکل چې څوک د مسلمانانو او د دوي د ملګرو لپاره ګټه ور وؤ او د حکومت له مکاريو او چالونو به يې دوي خبرول، ځکه خو چې کله علي بن يقطين غوښتل چې د هارون په دربار کښې له خپل پوسته استعفا ورکړي، امام اجازت ورنه کړو.

امام موسی کاظم عليه السلام حتی د بندي توب په سختو شرائطو او حالاتو کښې هم د ظلم له حکومت سره له مبارزې او مقابلې لاس وانه خستو. هارون ته د امام يو ليک، چې له

بنده یې ورته استولي ؤ، ته غور وکړئ څومره په برم، میړانتیا، ایمان او کلکې عقیدې سره یې لیکلی دی.

"..... په ما باندې داسې یوه ورځ هم په سختۍ کښې نۀ تیرېږي خو دا چې په تا هغه ورځ ښۀ په اسانۍ او خوند سره تیرېږي خو تر هغې ورځې صبر وکړه چې هیڅ پایې نۀ لري او تباه کارانو او ظالمانو ته د تاوان ورځ ده"

هارون د همدغو سیاسي حالاتو او ویرو په وجه د امام وجود نۀ زغملو نو دا به ډیر ساده توب وي چې ووایو هارون یوازې د امام له معنوي مقام او حیثیت سره په زړۀ کښې حسد درلود ځکه یې هغه مبارک بندي کړو. هارون ښۀ پوهیدو چې که هر کله هم امام فضا برابره ووینې نو په خپل یاد خپلو اصحابو په پاڅون سره به د هغۀ حکومت نسکور کړي او لیدل یې چې امام هیڅ ساز باز ته راضي نۀ دی. او که غلی دی نو دا هم یو تاکتیک دی. له دغو ویرو هارون رامخکښې شو او بې له دې چې د خلافت د غصبولو په خلقو باندې د خپلو ظلمونو، د هغوي د مالونو د خوړولو او په سلطنت باندې د خلافت له بدلولو شرم وکړي. پیغمبر(ص) ته وائي: اې د خدایې رسوله! په هغې فیصلې چې ستا د لمسي موسی بن جعفر په حقله مې کړې ده، عذر غواړم، زۀ په باطن کښې نۀ غواړم چې دې بندي کړم خو ویرېږم چې ستا په امت کښې به جنګ رامنځته شي او وینې به تویې شي نو دې بندي کوم. بیا یې حکم وکړو چې امام کاظم علیه السلام چې د پیغمبر(ص)

د قبر په خوا کښې په مانځه ولاړ ؤ، ونیسي او په بصره کښې یې بندي کړي.

امام د بصرې والي عیسی بن جعفر په بند کښې یو کال تیر کړو د هغوي نیکو اخلاقو او عمل په عیسی بن جعفر باندې دومره اثر وکړو چې هارون ته یې ولیکل: دي له ما بوزه ګني خوشی به یې کړم "د هارون په حکم امام بغداد ته بوتلل شو او د فضل بن ربیع په بند کښې یې بندي کړ بیا څۀ موده پس فضل بن یحی ته وسپارل شو او بالاخره د سندي بن شاهک بند ته منتقل کړې شو.

د بندونو د دغو پرله پسې بدلولو وجه دا وه چې هارون هر ځل د بند له واکمنانو غوښتل چې امام شهید کړي خو یو هم غاړه نۀ کیښوده. تر دې چې سندي بن شاهک د هارون په وینا هغه شهید کړ او د هغوي له وفاته مخکښې یې ځینې مشهور کسان راوغوښتل چې ګواهي ورکړي چې په امام باندې حمله نۀ ده شوې بلکه په خپل مرګ وفات شوی دی. په دې چل سره یې غوښتل چې هم د امام د شهادت پړه له عباسي حکومته لرې کړي او هم د امام د پلویانو د احتمالي بلوا او یرغله ځان وساتي. خو د امام وښیارۍ او ټینګتیا هغوي رسوا کړل ځکه چې کله شاهدانو امام ته اوکتل، امام له سخت تکلیف او زهر جنیدو سره سره وفرمایل: ما ته یې په نهو کجورو کښې زهر

راکړي دي، بدن به مې سبا شين کيږي او بله ورځ له دنيا ځم.[1]
او څنګه چې امام ويلي وو هماغه شان وشول. دوه ورځې پس يعني د 183 هجري قمري کال د رجب په پنځه ويشتمې نيټې زمکې او اسمان وير وکړ او ټول مسلمانان د هغه امام د فراق په غم داغي شول.[2]

## د امام عليه السلام مناظرې او علمي مذاکرې

امام موسی کاظم عليه السلام بلکې ټولو امامانو په خپل خدايي ورکړي علم سره د هرې پوښتنې ځواب د تپوس کوونکي له علم او پوهې سره سم ورکولو او ټولو کسانو حتی دښمنانو هم د هغوي د تفکر د قدرت او پوهي په وړاندې په خپلې عاجزۍ او بې وسۍ اعتراف کولو. هارون امام موسی کاظم عليه السلام له مدينې څخه بغداد ته راوغوښت او خبرو اترو ته ورسره کښيناست.

هارون: زما په زړۀ کښې له ډيره وخته ځينې پوښتنې دي. تر اوسه مې له چا نۀ دي پوښتلی، غواړم چې تۀ يې ځواب راکړې ځکه چې اوريدلي مې دي، تۀ دروغ نۀ وايې. نو زما ځواب سم او رښتيا راکړه.

1. عيون اخبار الرضا ج 1 ص 97
2. کافي ج 1 ص 486، انوار البهيه ص 97

امام: که د بیان ازادي راکړې نو ستا د پوښتنو سم ځوابونه به درکړم.

هارون: د بیان ازادي لرې، څهٔ چې غواړې ویلې شې. لومړی پوښتنه دا چې ولې تهٔ او نور خلق عقیده لرئي چې تاسو د ابو طالب اولاده زمونږ نه یعنې عباس له اولاد غوره او بهتر یئ، حال دا چې مونږ او تاسو د یوې تنې یو. ابو طالب او عباس دواړه د پیغمبر(ص) ترونه وو او له پیغمبر(ص) سره د خپلوی له نظره څهٔ توپیر نهٔ لري.

امام: مونږ پیغمبر(ص) ته تر تاسو نزدې یو.

هارون: هغه څنګه؟

امام: ځکه چې زمونږ پلار یعنې ابو طالب د خدایې د رسول د پلار سکه ورور ؤ(یعنې له یوې مور او پلار وؤ) خو عباس یې ناسکه ورور ؤ ځکه چې یوازې مور یې یوه وه خو پلاران یې جدا وؤ.

هارون: بله پوښتنه مې دا ده چې ولې تاسو ادعا لرئ چې له پیغمبر(ص) ارث هم وړئ، حال دا چې کله پیغمبر(ص) وفات شو نو ترهٔ یعنې عباس (چې زمونږ پلار دی) ژوندې ؤ خو بل ترهٔ یې یعنې ابو طالب چې ستا سو پلار دی، نهٔ ؤ ژوندې او دا خو معلومه ده چې کله ترهٔ ژوندې وي د ترهٔ ځوي ته میراث نهٔ پاتې کیږي.

امام: د بیان ازادي راکوې؟

هارون: اول مې وویل چې ازاد یې.

امام: امام علي بن ابي طالب فرمائي کله چې اولاد موجود وي نو له مور، پلار، ښځې او خاوند پرته نورو ته میراث نۀ رسیږي. او چې اولاد وي نو د ترۀ لپاره نۀ په قران کي میراث ثابت شوی دی او نۀ په روایتونو کښې (نو څوک چې وایي ترۀ د پلار په شان دی چټې او بې ځایه خبره ده او دلیل نۀ لري) نو چې کله بي بي فاطمه زهرا (س) یعني ده پیغمبر (ص) لور موجوده وه د هغۀ ترۀ عباس ته میراث نۀ راسیږي.

هارون: بله پوښتنه دا چې تاسو ولې خلقو ته دا اجازت ورکړي چې تاسو د پیغمبر (ص) له کورنۍ او نسله وبولي او د رسول بچي درته ووایي حال دا چې تاسو د حضرت امام علي علیه السلام بچی یئ ځکه چې نسل په پلار پسې ځي، نۀ په مور پسې، او پیغمبر (ص) خو ستا سو موریني نیکه دی.

امام: که پیغمبر (ص) راژوندي شي او ستا لور وغواړي نو ورکوي یې؟

هارون: سبحان الله ولې یې نۀ ورکوم بلکې په دې خبره خو په عربو عجمو او قریشو کي ویاړ هم کوم.

امام: خو پیغمبر (ص) زما لور نۀ غواړي او زۀ یې هم نه ورکوم.

هارون: ولې؟

امام: ځکه چې هغه زما پلار دی (که څه هم د مور لخوا) خو ستا پلار نۀ دی، نو ځان ته د رسول بچی ویلې شم.

هارون: نو تاسو ولې ځانته د خدايې د رسول نسل وايې، حال دا چې نسل او ذريت د ځوي لخوا وي، نۀ د لور لخوا.

امام: ما له دي ځوابه معاف کړه.

هارون: نۀ پکار ده چې ځواب راکړې او له قرانه دليل راوړې.

امام: "... وَ مِن ذُرِيَةِ دَاودَ وَ سليمانَ وَ ايوبَ وَ يُوسفَ وَ هارون و کَذالِکَ نَجزی المُحسنِين. وَ ذَ کَرِيا وَ يَحيَي وَ عِيسَی...." (د انعام سوره **83** و **84** ايتونه) اوس له تا پوښتنه کوم عيسی چې په دې ايت کښې د حضرت ابراهيم ذريت او نسل بلل شوي د پلار لخوا له حضرت ابراهيم سره نسبت لري که د مور لخوا؟

هارون: قران وايې چې د عيسی پلار نۀ ؤ نو ضروري خبره ده چې ده مور لخوا.

امام: نو د مور لخوا يې د حضرت ابراهيم نسل بللی دی مونږ هم د خپلې مور بي بي فاطمې (ع) لخوا د پيغمبر(ص) نسل او اولاد ګڼل کيږو. بل ايت هم درته ووايم؟

هارون: ووايه.

امام: د مباهلې ايت خو به دې لوستې وي: فَمَنْ حَاجَکَ فِيه مِنْ بَعد مَا جَائَکَ مِنَ العلمِ فَقُل تَعَالَوا نَدْعُ اَبْنَائَنَا وَ اَبنَائکُم و نِسائَنَا وَ نِسَائکم وَ اَنفُسَنَا وَ اَنفُسَکُمْ ثُمَ نَبْتَهِلْ فَنَجْعَلْ لَعْنَةَ اللهِ علیَ الکَاذِبِين. (سوره ال عمران ايت **61** ) يعني... تاسو خپل زامن راولئ مونږ به خپل راولو تاسو خپلې ښځې راولئ مونږ

به خپلې او تاسو خپل نفسونه راولئ مونږ به خپل، بیا به مباهله وکړو او په هغه چا به د خدايې لعنت وکړو چې دروغجن دي" هيچا نۀ دي ويلي چې پيغمبر(ص) د نجران له نصاراوو سره مقابله کښې له امام علي، فاطمې ، حسن او حسين عليهم السلام پرته بل څوک له ځان سره بوتللي وو، نو دا ابنائنا(يعني خپل زامن ) مصداق حسن او حسين عليهما السلام دي يعني پيغمبر(ص) د خپلو زامنو په ځاي حسن او حسين عليهما السلام بوتللي وو، سره له دې چې دوي د مور لخوا د پيغمبر(ص) زامن دي او دګران رسول د لور زامن دي.

هارون: زمونږ نه څۀ غواړې؟

امام: نه. هيځه يوازې غواړم چې کور ته لاړ شم.

هارون: په دې حقله به فکر وکړم.

## عبادت

امام به عبادت ډيرزيات کوۀ او عبادت به يې د ژوند مقصداو موخه ګڼله لکه څنګه چې خدايې پاک په قران کښې هم همداسې فرمايلي دي او کله چې به له اجتماعي کارونو فارغ ۀ نو هيڅ څيز ته به يې په عبادت ترجيح نۀ ورکولو کله چې د هارون په حکم بندي کړې شو نو وې فرمايل اَللهُمَ اِني طالماً کنت اسألک .....خدايه ما له تا ډير ځله غوښتي چې ماته د خپل عبادت لپاره فارغ وخت راکړه اوس دې زما دعا قبوله

کړه په دې باندې ستا مننداوي يم"البته له دې جملې څخه له بنده مخکښې په اجتماعي او ټولنيزو کارونو کښې د هغوی د سخت مصروفيت پته هم لګيږي. کله چې امام د ربيع په بند کښې ؤ نو هارون به کله کله د بنديخانې له بامه تماشه کوله او هر ځل به يې ليدل چې امام د بند په يو کټ کښې په سجده پروت دی. امام موسی کاظم عليه السلام به دا دعا ډيره کوله: الهم اني اسالک الراحة عند الموت والعفو عند الحساب (اې زما خدايه ماته د مرګ په وخت اسانتيا او د حساب کتاب په وخت بخښنه راکړې)[1] قران به يې په ډير خوږ اواز لوستۀ او چې هرچا به يې اواز اوريدلو، ژړيدو به، د مدينې خلقو هغۀ ته زين المتهجدين (يعني د شپه رونوونکو زينت) لقب ورکړې ؤ.[2]

## نرمي سر ښيندنه او زغم

د امام عاجزي او سر ښيندنه بې ساري او د نورو لپاره بيلګه وه. د هغوی په نامې پسې د کاظم لقب د همدې خوی بيانوونکي او په عاجزې، د غصې په ځښلو، او سر ښيندنې کښې د هغوی د مشهورتيا ښوونکي دي.هغه وخت چې عباسيانو په ټول اسلامي هيواد کښې د ساډوبې فضا

1 . ارشاد مفيد ص 277
2 . ارشاد مفيد ص 279

رامنځته کړې وه، د خلقو مالونه به یې د بیت المال په نامه راټولول او په عیش عشرت به یې لګول، غریبۍ د خلقو ملا ماته کړې وه، اکثر خلق بې تعلیمه، بې کلتوراوغریب وو د علویانو په خلاف د عباسیانو پروپیګنډه ذهنونه زهرجن کړي وو او کله کله به ځینو کسانو په امام یرغل کولۀ خو امام به په خپلو لوړو اخلاقو سره غصه شوي خلق ارامول او په خپلې نرمۍ او مهربانۍ سره به یې هغوي ادبول.

په مدینه کښې یو کس اوسیدۀ چې امام به یې ازارولو او کله کله به یې امام ته کنځل کول. د امام ځینو یارانو غوښتل چې هغه ووژني خو امام به په کلکه هغوي منعې کول. یوه ورځ امام د هغۀ د ځایې پوښتنه وکړه بیا په اس سور شو او د هغۀ پټي ته ورغي او همداسې سور په پټي ورننوت. سړي چغې کړې چې فصل مې مۀ تباه کوه، امام ورته خاصه توجه ورنۀ کړه اوهمداسې سور د هغۀ خوا ته ورغی، له اسه راکوز شو او په خندا او مسکا سره یې ترې پوښتنه وکړه په دې پټي دې څومره پیسې لګولي دي؟

سړی: سل دیناره.

امام: د څومره ګټې امید لرې؟

سړی: له غیبو نۀ یم خبر.

امام: ومې ویل چې څومره امید لرې؟

سړی: د دوۀ سوو دینارو امید لرم.

امام ورته درې سوه دیناره ورکړل او وې فرمایل چې فصل دې هم ستا وي، خدايې به دې خپل امید ته ورسوي. هغه سړي پاڅید د امام سر يې ښکل کړ او وې ویل چې زما له ګناهانو او بدیو تیر شه. امام په مسکا سره راستون شو. بله ورځ هغه سړی په جمات کښې ناست ؤ چې امام ورننوت. دۀ چې کله امام ولیدۀ نو وې ویل: الله اعلم حیث یجعل رسالته" (خدایې ښۀ پوهیږي چې خپل رسالت چاته ورکړي) ملګرو يې دوباره امام ته دعا وکړه. امام خپلو ملګرو ته وویل کومه لار ښه ده، ستاسو هغه یا دا چې ما له دۀ سره وکړه.

## سخاوت و بخښنه

امام موسی کاظم علیه السلام دنیا مقصد او موخه نۀ ګڼله او که څه مال به لاس ته ورتللو نو غوښتل به يې چې له چا سره پرې مرسته وکړي، څوک غمجن پرې خوشاله کړي یا وږې پرې موړ کړي.

محمد بن عبد الله بکري وائي: له مالي نظره سخت خراب شوې ؤم او د قرضې لپاره مدینې ته لاړم. هرې خوا ته چې مې سر ووهلو فائده يې ونۀ کړه او ډیر ستړی شوم. له ځان سره مې وویل ښۀ ده چې امام موسی کاظم علیه السلام ته ورشم او له خپل حاله احواله يې خبر کړم. په پوښتنه مې هغه مبارک د مدینې په خوا کښې په یو پټي کښې په کار مشغول پیدا

کړو. امام زما د میلمستیا لپاره رامخکښې شو او ډوډۍ مو په ګډه وخوړه. له ډوډۍ ورسته یې تپوس وکړو: له ما سره دې څۀ کار ؤ؟ قیصه مې ورته واوروله، پاڅید د پټي په خوا کښې یوې کوټې ته ورغی، له ځان سره یې درې سوه د سرو زرو دیناره راوړل او ما ته یې راکړل. زۀ په خپل اس او د قسمت په اس راسور راستون شوم.

## د امام ځینې خبرې

**1** : عاجزي دا ده چې له خلقو سره هم هغه شان سلوک وکړې لکه څنګه چې غواړې له تا سره یې وکړي.

**2** : د خدایې له پېژندلو وروسته هغۀ ته د نزدې کیدو تر ټولو ښه وسیله مونځ، له مور او پلار سره نیکي کول او د حسد او غرور پریښودل دي.

**3** : څوک چې خیانت وکړي او مسلمان ته د څۀ شي عیب او خرابي ونۀ ښائي یا یې له بلې لارې دوکه کړي او چل ول ورسره وکړي خدایې په داسې کس لعنت کوي.

**4**: د خدایې پاک د ټولو بد بنده هغه دی چې دوه ژبې او منافق وي، د خپل مومن ورور په مخکښې د هغۀ تعریف کوي او په شا یې بد وائي یا یې چې مسلمان ورور ته څۀ نعمت ورسیږي نو حسد ورسره کوي او کۀ په مصیبت کښې ښکیل شي نو مرسته یې نۀ کوي.

**5** : څوک چې د دنیا عاشق شو د اخرت ویره یې له زړه څخه ځادر ټولوي.
**6**: تر ټولو ښه کار میانه روي او منځلاروي ده .
**7**: خپل مالونه د زکات په ورکولو سره خوندي کړئ.

## د امام موسی کاظم علیه السلام د امامت غبنتلتیا

ګرانو امامانو به له خپل ځانه وروسته د امام او دیني او سیاسي مرجع مشر د ښودلو او ټاکلو لپاره په څرګنده او جوته توګه د هغۀ نوم اخستلو چې د هغو کسانو لپاره هیڅ لار او بانه پاتې نشي چې له دې لارې یې غلطه او ناوړه استفاده کول غښتل او ددې لپاره چې د امامانو صحیح منوونکو ته خپل امام معلوم شي. له دې امله امام جعفر صادق(علیه السلام) د عباسیانو په هغه سخت دور کښې هم د امام موسی کاظم علیه السلام امامت په څرګنده توګه بیان کړی او له ځانه ورسته یې ټاکلی دی چې څو نمونې یې دا دي:
**1**: علي ابن جعفر وایي زما پلار امام صادق(علیه السلام) خپلو ځینو خاصو اصحابو او یارانو ته وفرمایل زما د بچي (اشاره ده امام موسی کاظم علیه السلام ته) په باب زما سپارښتنه ومنئ ځکه چې هغه زما له ټولو بچیو او ټولو پاتې کسانو غوره او لوړ دی. تر ما ورسته به زما ځاي ناستې او د خدایې په بندګانو د خدایې حجت وي.

**2**: عمر بن ابان وايي امام صادق(عليه السلام) له ځانه ورسته د ټولو امامانو نومونه واخستل، ما ورته وويل چې اسماعيل هم پکښې دی، وې: نه په خدايې قسم! دا کار زمونږ په لاس کښې نهٔ دی.

**3**: منصور بن حازم وائي: امام صادق(عليه السلام) ته مې عرض وکړو چې زما مور او پلار له تا ځار شه له مرګه خلاصي نشته خو دا راته ووايه چې تر تا وروسته به امام څوک وي؟ وې فرمايل که ماته څهٔ واقعه پيښه شوه دا بچی (امام موسی کاظم عليه السلام طرف ته يې اشاره وکړه) به ستاسو امام وي. د امام موسی کاظم عليه السلام عمر هغه وخت پنځهٔ کاله ؤ البته د امام صادق(عليه السلام) يو بل ځوی عبدالله هم په مجلس کښې موجود ؤ. داسې نور ډير روايتونه او قيصې شته چې ټينګار کوي او څرګندوي چې اووم امام موسی کاظم عليه السلام دي نهٔ اسماعيل. چې د پلار په ژوند کښې له دنيا لاړ او نهٔ د اسماعيل بچې چې محمد نوميدهٔ. خو سره له دې د امام له وفاته ورسته ځينې کسان د اسماعيل يا د هغهٔ د ځوي محمد يا عبدالله د امامتۍ قائل شول او د رڼا له لارې چې ورته معلومه او روښانه شوې وه بې لارې شول.

# د امام د مکتب شاګردان

دامام علم او پوهه د حضرت محمد (ص)او د خپلو نیکانو د علم او عمل بیانوونکې وه. د علم او کمال تږي به د هغۀ د مکتب له چینې خړوبیدل او داسې علم به یې زده کوؤ چې په ډیر کم وخت کښې به یې د ایمان او علم لویې درجې حاصلولې.
امام قابو شل کالن ؤ چې ګران پلار یې له دنیا لاړ او د خپل پلار د مکتب اکثرو شاګردانو او زده کوونکو دوي ته مخه کړه چې قابو دیرش کاله یې له دوي ګټه واخسته. د هغۀ حضرت د مکتب شاګردان په فقه، حدیث، کلام او مناظرې کښې له نورو سره د پرتلې وړ نۀ وو او په اخلاقو علم او د مسلمانانو په خدمت کې د وخت بیلګه ؤ. د کلام د علم استادانو هغوي سره د بحث طاقت نۀ لرلو او په مناظرو کښې به یې ډیر زر پښې سپولې او د خپلې بې علمۍ او عاجزۍ اعتراف به یې کوؤ.
د امام له دغو شاګردانو روحي لوړاوي او د شخصیت عظمت د مخالفانو په تیره بیا د حکومت سترګې بریښولې او سوزولې وې او ویریدل چې داسې نۀ وي امام په خپل محبوبیت او پوزیشن سره پاڅون وکړي. د امام ځینې شاګردان دا دي.

## 1: ابي عمير (رح):

د هجرت په **217** کال وفات شو. د امام موسی کاظم علیه السلام، امام رضا علیه سلام او امام محمد تقي علیه سلام شاګرد پاتې شوی دی. د امامانو له نزدې یارانو او مشهورو متفکرانو څخه ؤ او د ډیرو مسائلو په حقله یې روایات نقل کړي دي. جاحظ چې یو لوي عالم دی د دهٔ په حقله لیکي: ابن ابي عمیر د خپل وخت په ټولو څیزونو کښې بیلګه ؤ.[1] ابن بکیر وائي ابن ابي عمیر بندي شو او په بند کښې پرې ډیر ظلمونه او کړاونه تیر شول. ټول مال او شتهٔ یې ترې واخستل او شاید د همدغو بندونو او کړاوونو په وجه د هغهٔ د حدیث کتابونه له منځه لاړل.

## 2 : صفوان بن مهران (رح)

دې یو پاک او موثق و معتبرسړی ؤ. چې عالمان یې روایتونو ته اهمیت ورکوي. په اخلاقو او کړچار کښې تر دې حده رسیدلي ؤ چې امام تائید کړ(دا هماغه صفوان دی چې د اوښانو قیصه یې تیره شوه)

1 . منتهی المقال ص 254 چاپ سنګي

## 3 : صفوان بن يحيٰ(رح):

دې د امام موسی کاظم علیه سلام په اصحابو کښې يو بزرګ کس ؤ. شيخ طوسي ليکي: صفوان د حديثونو د نقل کوونکو او حديث پوهانو په نزد د خپل وخت تر ټولو عالم يو پاک سړی ګڼل کيږي. صفوان د اتم امام په وخت کښې هم ؤ او لويې مقام يې درلود. امام محمد تقي عليه سلام هم هغه په نيکۍ يادولو او فرمايل به يې: خدايې له هغۀ راضي شو، زۀ ترې راضي ؤم، هيڅکله يې له ما او زما له پلار سره مخالفت ونۀ کړو.[1]

## 4: علي ابن يقطين(رح):

د هجرت په **124** کال په کوفې کښې پيدا شو، پلار يې د امام صادق(عليه السلام) له ملګرو څخه ؤ او خپل مال به يې امام ته استولو، مروان وڅارولو چې له امله يې هغۀ سره د خپلو دوو بچو علي او عبدالله مدينې ته لاړل. کله چې اموي حکومت دړې وړې شو او عباسي حکومت جوړ شو نو يقطين راڅرګند شو او له خپل ټبر او بچو سره کوفې ته ستون شو، علي بن يقطين له عباسيانو سره بشپړ تماس لرلو او ځينې مهم حکومتي پوسټونه يې نصيب شول، د خپل پوسټ په مهال

---

1 . رجال کشي ص 503

کښې يې د امام موسی کاظم علیه السلام له منوونکو او ملګرو سره ډېره مرسته وکړه.

هارون الرشيد علي بن يقطين خپل وزير جوړ کړو. او دهٔ به ددې مقام په استفادې سره د امام د ملګرو لوټل شوي او ضبط شوي مالونه هغوي ته په پټه ستنول. يو ځل يې امام موسی کاظم علیه السلام ته وليکل چې زهٔ له دې کاره تنګ شوی يم او له باچا سره نوره ګزاره نهٔ شم کولی کهٔ تهٔ اجازت راکوې نو زهٔ به له دې پوسته څنګ ته شم. امام ورته په ځواب کښې وليکل چې نه دا کار مهٔ کوه. علي بن يقطين د امام د حکمونو په پوره کولو کښې هيڅ سستي نهٔ کوله او څهٔ به چې امام فرمايل هغه به يې کول

يو ځل هارون الرشيد علي بن يقطين ته ځينې جامې ډالۍ کړې چې يوه ښکلې چُغه هم پکښې وه. علي بن يقطين ټولې جامې امام موسی کاظم علیه السلام ته يوړې. امام ټولې قبولې کړې خو چُغه يې وانهٔ خسته. علي بن يقطين پوهه نهٔ شو چې امام ولې دا چُغه ستنه کړې ده. څو ورځې پس علي بن يقطين له خپل يو رازدار غلام سره وران شو او هغه يې وشړلو. غلام چې له امام موسی کاظم علیه السلام سره د علي بن يقطين له مينې او له نورو پټو قيصو خبر ؤ، لاړو او هارون الرشيد ته يې هر څهٔ ويل او دا يې هم وويې چې کومې جامې تا علي بن يقطين ته وکړې وې هغه يې امام ته ورکړې دي. هارون ډير غصه شو او وې ويل زهٔ به تحقيق وکړم که ستا خبره رښتيا

وه نو هغه به ووژنم او که دروغ دې ويلي وي نو بيا زۀ پوهيږم او تۀ. هارون الرشيد علي بن يقطين راوغوښت او وې پوښتل ما چې کومه چُغه مې درکړې وه هغه دې څۀ کړه؟ وې ويل هغه مې په عطرو خوشبويه کړې او په حفاظت سره مې ايښې ده. ښه نو همدا اوس يې راوړه.علي بن يقطين خپل يو مريي واستوۀ. هغۀ چُغه يې راوړه او د هارون مخې ته يې کيښوده، هارون چې چُغه وليده نو په ارام شو او علي بن يقطين يې په احترام سره ستون کړ او وې ويل چې له دې ورسته به ستا په خلاف د هيچا چغلي ونه منم، بيا يې حکم ورکړو چې هغه غلام دې زر کوړې ووهل شي خو هغه په پنځوسو کوړو مړ شو. علي بن يقطين د هجرت په **182** کال کله چې امام موسی کاظم عليه السلام په بند کښې ؤ، وفات شو.[1] ځنې کتابونه يې هم شته چې نومونه يې شيخ مفيد او شيخ صدوق ياد کړي دي.

## 5: مومن طاق:

محمد بن علي بن نعمان چې کنيت يې ابو جعفر او لقب يې مومن طاق دي. د امام صادق(عليه السلام) او امام موسی کاظم عليه السلام له اصحابو ځنې ؤ او له امام صادق(عليه السلام) سره يې لوېې مقام درلود. مومن طاق دا خصوصيت

---

1 . رجال کشي ص 430

لرلو چې له مخالف سره په بحث او مناظرې کښې تل بریالې کیده.

## 6: هشام بن حکم(رح):

په بحث مناظرې او علم کلام کښې نابغه او په نورو لوړ ؤ. ابن ندیم لیکي هشام یو لویې متکلم او له هغو کسانو ؤ چې د امامت په حقله به یې بحثونه کول او په علم کلام کښې ماهر او حاضر ځوابه ؤ. هشام ډیر کتابونه لیکلي او د دینونو او مذهبونو له عالمانو سره یې په زړه پورې بحثونه لرل.

یونس بن یعقوب وائي د امام صادق(علیه السلام) ځینې اصحاب مثلاً حمران بن اعین، مومن طاق، هشام بن سالم، طیار اوهشام بن حکم له هغو سره ناست ؤ. هشام ځوان ؤ، امام هشام ته وویل له عمرو بن عبید سره دې څۀ وکړل او له هغۀ دې څرنګ پوښتنه وکړه؟ هشام ویل له تا شرمیږم او ستا په مخکښې مې خلۀ کار نۀ کوي. امام ورته وویل چې نه خیر دیووایه. هشام وویل: اوریدلي مې وو چې عمرو بن عبید د بصرې په جمات کښې کښیني او خلقو ته خبرې کوي. دا خبره په ما سخته وه. د جمعې په ورځ بصرې ته لاړم او جمات ته ورغلم عمرو بن عبید ناست ؤ او خلق یې ګېر چاپېره ناست ؤ او پوښتنې یې ترې کولې. په خلقو کښې مې ځایې وکړو او د هغۀ مخې ته کښیناستم او ومې ویل: زۀ یو مسافریم او له تا

يوه پښتنه كول غواړم، هغۀ اجازت راكړو ومې ويل: ستركې دې شته؟ وې ويل اې هلكه دا څنګه پوښتنه ده. ومې ويل زما پوښتنې بس همداسې دي تۀ يې ځواب راكوه. هغه هم ومنله. ومې پوښتل: ستركې دې شته؟ هو. په هغو سره څۀ وينې؟ رنګونه او شكلونه پرې ګورم او معلوموم. پوزه لرې؟ هو. په هغه سره څۀ كوې؟ بويونه پرې راكاږم. خله لرې؟ هو. په دې څۀ كوې؟ د خوراكونو مزه او خوند پرې معلوموم. ايا مازغه او د احساس مركز هم لرې؟ لرم يې. له هغې څۀ كار اخلې. څنګه چې ستا ټول غړي او اعضاء روغ رمټ دي بيا ورته د مازغو حاجت شته ځكه چې كله دا غړي په څه څيز كښې شك وكړي نو مازغو ته ورګرځي او له هغو پوښتنه كوي چې شك يې لرې شي او يقين ورته حاصل شي. نو مطلب دا چې خدايې پاك مازغۀ د غو غړو د شك د ختمولو لپاره ټاكلي او جوړ كړي دي؟هؤ. نو مازغو او د احساس مرز ته اړتيا او حاجت ضروري دی؟ هو.

هشام وائي: ما ورته وويل چې خدايې پاك ستا غړي او اعضاء بې له داسې امامه او مركزه نۀ دي پريښي چې د شك او تردد په وخت كښې ورته رجوع وكړي او سم له ناسمو وپيژني. نو څرګنه كيدې شي چې دا ټول مخلوق په شك، حيرانتيا او اختلاف كښې پريږدي او داسې يو امام او مشر ورته ونۀ ټاكي چې د شك او اختلاف په وخت ورته رجوع وكړي؟!!

عمرو بن عبدود غلی شو او څۀ یې ونۀ ویل بیا یې ماته مخ کړو او وې پوښتل چې د کوم ځایې یې؟ ومې ویل: د کوفې. وې ویل ته هشام یې. زۀ یې له ځانه سره کښینولم او تر هغې یې خبرې ونۀ کړې چې زۀ پاځیدم. امام صادق(علیه السلام) وخندل او وې فرمایل: دا استدلال درته چا ښودلي ؤ؟ هشام وویل بس همداسې مې په ژبه جاري شو. امام وفرمایل: اي هشامه په خدایې قسم دا استدلال د ابراهیم علیه السلام او موسی علیه سلام په صحیفو کښې شته.

✡ ✡ ✡